دَ ماشومانو دَ پاره ليکلې شوې نظمونه

# رنګ دَ پښتو

تصنيف


## مولانا احمدعلي مرداني

ساکن يونيورسټي روډ خوره بانډه مردان



ناشر

## اسلامي ادبي ټولنه مردان

0312-9818511


Ketabton.com

# بِسۡمِ اللّٰه الرحمٰن الرحیم

# صلی اللّٰه تعالیٰ علی النبی الامّی

## حمد باری تعالیٰ

نامه خوږه دي په جهان ربّه ! ده
هر یو نامه دي عالیشان ربّه ! ده
په هر نامه لتانه سوال کومه
مالك خالق رحمانه ! سوال کومه
راغلي دا په دي قرآن ربّه ! ده
نامه خوږه دي په جهان ربّه ! ده

ستا هر یو نوم ښکلي اثر لري ډیر
اثر هر خوا په لر او بر لري ډیر
پاك نامه ذ اطمینان ربّه ! ده
نامه خوږه دي په جهان ربّه ! ده

برکت په دي سره هر چا ذ پاره
رحمت په دي سره دُنیا ذ پاره
په ژبه دا چي ذ انسان ربّه ! ده
نامه خوږه دي په جهان ربّه ! ده

پاکه نامه دَ کامیابي ضمانت
هرچاله دا دَ ترقي ضمانت
پسته خوږه شیرین بیان رتّه ! ده
نامه خوږه دي په جهان رتّه ! ده
ثواب په دي دَ هر بشر دَ پاره
ثواب احمده ! الراو بر دَ پاره
نامه اعلا په هر مکان رتّه ! ده
نامه خوږه دي په جهان رتّه ! ده

..................................

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

انسان دي مدح خوان دے تول جهان دي مدح خوان دے
قران دے مدح خوان دے ،پاك سبحان دي مدح خوان دے
یٰسین سره طٰه سره خطاب شوي بل چاته
خطاب په مزمل سره شوي دے مصطفیٰ ﷺ ته
تائید ددي خبري دا بیان دي مدح خوان دے
قران دے مدح خوان دے ،پاك سبحان دي مدح خوان دے
واللیل سره دي ذکر په قران کښي دے دَ زلفو
مزه او خوند اعلا هغي بیان کښي دے دَ زلفو

ketabton.com - The Digital Library



اصحابٌ په جمع ټول ، هر مسلمان دي مدح خوان دے
قرآن دے مدح خوان دے ،پاك سبحان دي مدح خوان دے
عرب دے کهٔ عجم ددي خبري ټول ګواه دی
دا ښور پوره عالَم ددي خبري ټول ګواه دی
دَ زمکي خلق وروستو پاس آسمان دے مدح خوان دے
قرآن دے مدح خوان دے ،پاك سبحان دي مدح خوان دے
په دي زما ایمان دے زما دغه عقیده ده
احمده ! ستا اعلان دے ستا دا کلکه عقیده ده
غریب دي مدح خوان دے هریو خان دے مدح خوان دے
قرآن دے مدح خوان دے ،پاك سبحان دي مدح خوان دے

...................................

## دَ ګاونډي حقونه

دي په ژوندي حقونه
دَ ګاونډي حقونه
ستا چي په خوا کښي اُوسي
کلي دُنیا کښي اُوسي
تل دي دَ دوی حقونه
دي په ژوندي حقونه

ketabton.com - The Digital Library



کلاس کښي چي ستا په څنګ وی
یا دَ بل چا په څنګ وی
مدام لری حقونه
دي په ژوندی حقونه
دغم ښادی ملګری
دَ خوشحالي ملګری
لری قوی حقونه
دي په ژوندی حقونه
خیال دَ بیمار اُوساته
ښکلي روزګار اُوساته
ده زندګی حقونه
دي په ژوندی حقونه
ورله تکلیف ورنکړے
ستا دے دا کار چي ښه کړے
دی ضروری حقونه
دي په ژوندی حقونه
دی ابدی حقونه
ګفتار دَ نیکو خلقو

ketabton.com - The Digital Library



کار دي دنیکو خلقو
تل ورکوي حقونه
دي په ژوندي حقونه

یاد دا احمد به تل وي
که حق د خپل، د بل وي
نه هیروي حقونه
دي په ژوندي حقونه

دي ابد حقونه
دي په ژوندي حقونه

............................................................

## د شومتوب مذمت

شُومتوب ښه نه دے انسانه
جوړ سخی شه مسلمانه!

شوم سړي د چا خوښ نه وي
نور که هر څومره دي ښه وي
د بل خوښ وي ډیر په ګرانه
شُومتوب ښه نه دے انسانه

ډیر خراب ډیر بد عادت دے

ketabton.com - The Digital Library



چې شومتوب دَ چا خصلت دے
هير دي نة شي دغه څوانه
شُومتوب بية نه دے انسانه

دَ مولا كله خوښيږي
رب ته څنګ به نزدې كيږي
قيصه لاړله شوه ورانه
شُومتوب بية نه دے انسانه

هر عزت نه به وى لرے
له جنت نه به وى لرے
پاتې شى له خاندانه
شُومتوب بية نه دے انسانه

دَ نبي ﷺ به څنګه خوښ شي
دَ ولي به څنګه خوښ شي
هر څه پاتې له هر چانه
شُومتوب بية نه دے انسانه

چې شومتوب وى نو نفرت وى
كله څائې دَ محبت وى؟
داوينا نه ده له څانه

ketabton.com - The Digital Library



شُومتوب بنۀ نه دے انسانه

په شومتوب راضی شیطان وی
برکت کله وی ؟ تاوان وی
لرے کیږی له قرانه
شُومتوب بنۀ نه دے انسانه

نۀ په دغې مال زیاتیږی
احمد وایه کمیږی
بیل به نۀ شی له خفګانه
شُومتوب بنۀ نه دے انسانه

..........................................................

## عبدالرحمٰن بابا

حسین صورت ، حسین انسان بابا
دَ پیښور عبدالرحمٰن بابا

دَ پښتون خوا ،فخر زمونږ دَ ټولو
دَ پښتون قوم قبیلې شان بابا

په ټول پوره ئې هر یو شعر، غزل
دغسې ټول لری دیوان بابا

یو خوا ددین د تصوف خبرې

بل خواته خوږ شیرین بیان بابا
په ښکلی رنګ کښې شاعری د هغه
د پښتون قوم ښه ترجمان بابا
پښتانه ټول ورته په قدر ګوری
خوښ د غریب دے هم د خان بابا
داسې به نۀ وی له احمد چې هیر شی
د هغه زړۀ کښې هغه ګران بابا

..................................................

## چاپیرچل

داچې ګیر چاپیره څه دی
چاپیر چل دے . دا نور څه نۀ دی؟
جماتونه کۀ حجرې دی
د هر څه کۀ ادارې دی
مدرسې دا هر طرف
ډاکخانې دا هر طرف
ورسره هسپتالونه
ډسپنسرې ، ټول دفترونه
د پولیسو کۀ تهانې دی

ketabton.com - The Digital Library



چي موجود په هر حصي دی
ګير چاپيره ميدانونه
باغيچي دی نهرونه
تالابونه هر طرف ته
ټول ځيزونه هر طرف ته
چاپير چل دے چاپير چل دے
دَا هر څه کۀ هر محل وی
مونږ محتاج دَ چاپير چل يُو
ټول محتاجه ورته تل يُو
دَ انسان بقا په دي ده
دَ حيوان بقا په دي ده
زۀ محتاج يم ددي ټولو
اے ملګرو! اے همځولو
ددي خيال مدام په کار دے
جوړ له دي نه کلي، ښاردے
نعمتونه دَ مولا دی
ټول ځيزونه دَ مولا دی
په دي شکر رته! ستا ډير

شکر ستا ربّه! بیا بیا ډیر

زۀ احمد شاکر دَ رب یم

هر یو دوست ته مخاطب یم

................................

## ورزش

چي ورزش کړی صحت مند وی

په أُصولو فائده مند وی

فائده مند وی بلډ پریشر کښي

دا مدام دي وی سحر کښي

دا بدن چي کله غټ شي

یا انسان کله چي لټ شي

تل ورزش دي خامخا کړي

خوراکونو ته دي شا کړي

بیماري په دي ختمیږی

دَا بدن، وجود کمیږی

ورسره تازه بدن وی

ورسره ښکلي دا تن وی

کار کوی هم دَ هضمولو

ketabton.com - The Digital Library



دَ ورو ، لویو دَ ټولو

لوړه دي سره زیاتیږي

دَ بدن چي ورزش کیږي

ډیر قسمونه لري دلته

صفتونه لري دلته

جمناستك دے کۀ فټ بال دے

دَ ورزش هر یو مثال دے

هر یو لوبه کښي ورزش وي

چي دَ چا پوره کوشش وي

ډیري نوري ئي فائدي دي

اے احمده ! ټولي ښي دي

..............................

## سپرلي

سپرلي شوروشی

یخنی په تلوشی

خزان تیریږي

دوران تیریږي

تازه هوا شی

ketabton.com - The Digital Library



خوشبو هر خوا شی
پسته هوا وی
ښکلي فضا وی
موسم اعلا شی
ګلونه راشی
ایلی قطار کښي
مرغي چغار کښي
لګیا ګویا شی
ماحول چي دا شی
مسکي غوټي شی
مارغان یو ځائي شی
حسین منظر وی
مدام اختر وی
ښکلي رنګونه
حسین وختونه
طوطیان خوشحاله
جهان خوشحاله
حسین موسم دے

ketabton.com - The Digital Library



رنګین موسم دے

احمد ګویایم

حق ګو وصفایم

...............................

## موبائل

کړه په خیال دَ موبائل

استعمال دَ موبائل

دَ هر چا دے ضرورت

واخله دا دے ضرورت

دا دي حال دَ موبائل

استعمال دَ موبائل

په حساب پوهیږی به

راشه دي کښي دی هرڅه

غټ کمال دَ موبائل

استعمال دَ موبائل

خبرول په دي اسان

لری بل ځائي خاندان

دا جمال دَ موبائل

ketabton.com - The Digital Library



استعمال دَ موبائل

رابطه دَ ځوئي او مور

رابطه دَ هريو کور

ښة وصال دَ موبائل

استعمال دَ موبائل

په چارجر به چارج کوي

ډيري دا لري فائدي

حال احوال دَ موبائل

استعمال دَ موبائل

ځان له واخله لږارزمان

ځان له کار کړه بيا روان

مة کړه سوال دَ موبائل

استعمال دَ موبائل

يو ډبي وروکي دا

دَ احمد ښکلي وينا

ښه مثال دَ موبائل

استعمال دَ موبائل

.................................

ketabton.com - The Digital Library



# څه دی وایه ؟ څناور دے

نه ده وُنه، نه حجر دے
څه دی څه دی ؟ څناور دے

بعض په غوښې باندي پائی
غوښه خور ورته تهول وائی

بعضې شنې خوری کیاګانې
شنې او اُوچې هرخوا پانې

سبزی خور هله یادیږی
د اصفات چې بیانیږی

څنې غوښه هم کیا خوری
وُچې، شنې پانې هرخوا خوری

دریم قسم دَ څناور دے
پاس بیان ښه مختصر دے

مثالونه ددوی تهولو
دي احمده! دَ یادولو

.........................................

.....................

# ځناور

نه حجر دی، نه شجر دی
ځناور دی ځناور دی

نه څه عقل لری سر کښې
صرف حِس شته ځناور کښې

په خپو ګرځی په ځلورو
په دې بیل دی تړول له نورو

ښکر د بعضې وې په سر کښې
حیوانات دی لر او بر کښې

یولکې ئې هم په تن شته
ویښته هم ئې په بدن شته

لوئې، واړه لری غوږونه
بیل جُدا لری نومونه

ځنې دنګ دی کائنات کښې
نسل چیت شته حیوانات کښې

ځنګلونه ځائې د ځنو
دا کورونه ځائې د ځنو

نه حجر دی نه شجر دی

څناور دي څناور دي

پيدا کړې رب انسان له

اے احمده ! دي جهان له

..............................

## دَ قرآن فرياد

مسلمانه ! ګيله منديم

ډېر لتانه ګيله منديم

تا شا کړې ده نن ماته

تا مخ کړې دے دُنيا ته

بيا به چا نه ګيله منديم؟

ډېر لتانه ګيله منديم

نزدي نه راځي تهٔ ماله

نور دَ هرچا ځي تهٔ خواله

ډېر انسانه ګيله منديم

ډېر لتانه ګيله منديم

څنګ په ما به تهٔ عمل کړې

په شيطان پسې چې تلل کړې

تانه ځوانه ! ګيله منديم

ډیر لتانه ګیله مند یم

دوی تا خونو کښي یم ایخي

غلافونو کښي یم ایخي

له جهانه ګیله مند یم

ډیر لتانه ګیله مند یم

زۀ دَ غاري تعویذ نۀ یم

ما وواية چي زۀ څۀ یم ؟

تا نه ګرانه ګیله مند یم

ډیر لتانه ګیله مند یم

دَ باطل به څنګ ئي

دَ غافل به څنګه ئي

بي پروانه ګیله مند یم

ډیر لتانه ګیله مند یم

تۀ چي ما ته نظر نۀ کړے

دَ احمد وینا به څۀ کړے

قیصه روانه ګیله مند یم

ډیر لتانه ګیله مند یم

...............................

ketabton.com - The Digital Library



# پختونخوا يم

ښۀ منظر لرم اعلا يم
پښتونخوا يم، پښتونخوا يم
ځنګلونه دي سيندونه
دلته کښې دي شنه باغونه
تالابونه، ميدانونه
دلته کښې اُوچت غرونه
ياد هر خواته په ښُکلا يم
پښتونخوا يم، پښتونخوا يم
ښکلي کور دَ مسلمان يم
ځائې دَ امن اطمينان يم
دَ ګلونو ګلستان يم
يو حصه دَ پاکستان يم
ښه عطا زۀ دَ مولا يم
پښتونخوا يم، پښتونخوا يم
معدنيات مي دي په تن کښې
دير صفات مي دي په تن کښې
برکات مي دي په تن کښې

انعامات مې دي په تن کښې
ملغلره په ريښتيا يم
پختونخوا يم، پختونخوا يم

پېښور زما يو ښار دے
ځائې دَ خلقو روزګار دے
مقام دلته کښې يادګار دے
قلعه ګانو کښې حصار دے
ځائې ښهٔ ياديمه، اشنا يم
پختونخوا يم، پختونخوا يم

ډېر لرم ښکلې ښارونه
سم دي تهول حسين ګلونه
کړم احمد ئې صفتونه
ښکلې تهول لري نومونه
دَ استوګنې ځائې صفا يم
پختونخوا يم، پختونخوا يم

..............................

...............

# زۀ به وُلے نه پاس کیږم

زۀ به وُلے نه پاس کیږم
په محنت زۀ نۀ مړیږم
دا چې ډیر ډیر زۀ محنت کړم
د وخت قدر هر ساعت کړم
خامخا به مخکښې کیږم
زۀ به وُلے نه پاس کیږم
کۀ ماښام وی کۀ سحر وی
غم مدام زما په سر وی
په دې غم کښې اُودۀ کیږم
زۀ به وُلے نه پاس کیږم
چې محنت کوُم مدام زۀ
بیا یادوُم سبق تمام زۀ
لوبو ته نۀ اوزګاریږم
زۀ به وُلے نه پاس کیږم
بیانونه د ګپ شپ
محفلونه د ګپ شپ
ورته نه کله نزدې کیږم

زهٔ به وُلے نه پاس کیږم

د سکول کار سره دَ کور کړم

کار کاپو کښې زهٔ نور نور کړم

په دي کله ستړلي کیږم ؟

زهٔ به وُلے نه پاس کیږم

چې دَ رب فضل په ما وی

تل دَ مور او پلار دُعا وی

خنګ به دلته کښې فیل کیږم

زهٔ به وُلے نه پاس کیږم

چې دا شوق دغه جذبه وی

ستا احمده! حوصله وی

او نهٔ وروستو وروستو کیږم

زهٔ به وُلے نه پاس کیږم

......................

## اشر او غویل

عجیبه دَ کار منظر دے

دا چې نن شورو آشَر دے

راغونډ کړی دوی غنم دی

ketabton.com - The Digital Library



ځوانان جمع ټول دَ چم دي
بس په مناړه هریو نَر دے
دا چي نن شورو آشَرُ دے

اشر کندي رایو ځائي دي
ټول په کار کښي په تادي دي
بندوبست ښۀ په هنر دے
دا چي نن شورو آشَرُ دے

کار چي کله دَ پټی وي
مددګار بیا ګاونډي وي
دلَو کار کۀ یا د ګَر دے
دا چي نن شورو آشَرُ دے

ډیر په دوه او دري شي جمع
ټول واړه او لوئي شي جمع
فائده مند کار برابر دے
دا چي نن شورو آشَرُ دے

په غوبل هم دا یادیږي
پښتونخوا کښي دغه کیږي
دَ پښتون ښکلي کلچر دے

دا چي نن شورو آشَرُدے

خلقو کول به غوبلونه

په شریکه ډیر کارونه

دَ پټی کۀ اُوبه خوردے

دا چي نن شورو آشَرُدے

راروان دے له پخوانه

احمد وائی اے وروجانه

ښۀ عمل دَ لرا و بردے

دا چي نن شورو آشَرُدے

................................

## د سکول کار

پریښودل نه دی په کار

کار دَ سکول کړی هر هوښیار

څۀ لیکل کۀ دَ پښتو وی

څه یادول کۀ دَ اُردو وی

ورور او پلار کړی مددګار

کار دَ سکول کړی هر هوښیار

کۀ څۀ کار دَ انګریزي وی

یا څة کار ذریاضي وی
ورته وی مدام تیار
کار ذ سکول کړی هر هوښیار

هر یو سوال سره جواب
یادوی مدام کتاب
لیکی، وائی باربار
کار ذ سکول کړی هر هوښیار

متضاد په کښي حرفونه
یادوی هغه نومونه
چي وی څوك ښه ذمه دار
کار ذ سکول کړی هر هوښیار

واحد جمع په ښة شان
خالی ډك کړی هر مکان
ذ استاذ وی تابعدار
کار ذ سکول کړی هر هوښیار

مؤنث بیا مذکر
په دي تل ساتي نظر
ورته بیا نه وی دُشوار

ketabton.com - The Digital Library



کار د سکول کړي هر هوښيار
مه ئې هیڅ کله پرېږدي
کالمونه کړي یوځائې
تعلق لري چې لار
کار د سکول کړي هر هوښيار
د لفظونو انتخاب
لګول مدام اعراب
د زور، زېر دي خپل کردار
کار د سکول کړي هر هوښيار
دا چې هر څه شي تمام
بیا دي اُوکړئ لږ آرام
د احمد ښکلي ګفتار
کار د سکول کړي هر هوښيار

..............................................

## سرکاري اداري

دا چې څومره اداري دی
بیلي بیلي ئې نامي دی
پولیسان چې په کښې اُوسی

ketabton.com - The Digital Library



دا سپایان چي په کښي اُوسي
په دوی تېریفك هم کنټرول دے
محفوظ ورسره ماحول دے

کۀ چوکي دی کۀ تاڼي دی
بیلي بیلي ئي نامي دی
جج قاضي سره اختیار دے
دَ قانون استاذ دے پلار دے

ختمونکي اختلاف دے
عدالت ځائي دَ انصاف دے
تل کُهولاؤ ئي دروازي دی
بیلي بیلي ئي نامي دی

ځائي دَ علم تهول سکولونه
پوهنتون شته، کالجونه
دَ تعلیم ځائي دَ هنر دے
هر مقام غوره بهتر دے

دَ علم جاري چیني دی
بیلي بیلي ئي نامي دی
رسوُی زمونږ خطونه

رسالي هم کتابونه

رسوی هم سامانونه

ستا چي څۀ وی پيغامونه

ډاکخاني لوئي ، وړي دی

بيلي بيلي ئي نامي دی

هسپتال ځائي د علاج دے

د کمال ځائي د علاج دے

په کښي غټ غټ طبيبان وی

د علاج په کښي سامان وی

غټ بلډنګ ، ډيري کمري دی

بيلي بيلي ئي نامي دی

رايو ځائي چي شی دا تهول

کار د دوی حکومت کول

د دي قوم هريو خادم دے

په اخلاص چي څوك قائم دے

د احمد خوږي جملي دی

بيلي بيلي ئي نامي دی

..................................

ketabton.com - The Digital Library



# شمشتی

دا چي کول او بي لکی ده
شمشتی ده شمشتی ده

په اُوبو کښي وی خوشحاله
ورله ډیر مه ورځه خواله
ضرور درنه کړي چي تاله
هیڅ کله نه ده حلاله
غونډه مونډه رکیبي ده
شمشتی ده شمشتی ده

په خلورو خپو روانه
لامبوزنه له پخوانه
مدام تختي له هر چانه
له حیوان نه، له انسانه
په تن بره بس چتري ده
شمشتی ده شمشتی ده

ډیري زیاتي ئي اکي وی
په اکو چي شمشتي وی
په مقدار د الو چي وی

ketabton.com - The Digital Library

دا ګـــي سپيــــنـــي هـــرځـــــائــــي وی
دا خپـــــل نســــل لــــــــــه ژونـــــدي ده
شــــــمشتــــــي ده شـــــــمشتــــــي ده

ســــرئـــي پــــټ وی پــــه بـــدن کښـــي
مــــرې پټــــــه ســـــاتـــــي تـــن کښــــي
دَاويـــــو اُوســــــــي لـــــمــــــن کښـــــــي
ستــــــا احـــمــــده ! شتـــــه وطــن کښـــي

ځـــــائـــي ئــــي سيــنــد ، نهـــرنــــالـــي ده
شــــــمشتــــــي ده شـــــــمشتــــــي ده

.............................................

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبعونه
وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ خیر خلقه
محمد واله واصحابه اجمعین
آمین یا ربّ العالمین

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*